AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۱/۰۵/۱۳

# اختر
# او
# له دعا محروم مړي

څه ښه رواج مو و؛ د اختر په ورځ به د سهار له لمانځه وروسته د کلي له ملاصیب سره مخ په هدیره وخوځیدو. په نږدې کیدو به بیرغونو داسې شغا کوله، لکه زموږ راتګ ته چې بې صبرانه منتظر وي. داسې شغا به وه، تا به ویل اوس به اسکلیټونه له ډیرې مینې له قبرونو راووځي او...

ملاصیب به تلاوت وکړ، دسته جمعي دعا به وشوه. بیا به هرڅوک د خپل خواخوږي او حقدار قبر ته ودرید او انفرادي دعا به یې کوله.

زه خو به له داسې کیفیت سره مخ وم؛ لکه مور او پلار چې مې ویني، راته غوږ غوږ دي او په هرې دعا مې تازه کیږي.

دریغا!

نن به څوک هدیرو ته لاړ نشي. نن به له ډیره انتظاره ارواوې ستړي شي؛ خو خپل خواخوږي به نه ویني.

کلي د جګړې له وحشته خالي شوي، هغه کلي چې آن د شورویانو وخت کې پکې شور و، نن خاموش دي.

هلته هیڅ کافر او خارجي نشته؛ خو جهاد روان دی. لارې بندې دي، داسې په شوق ماشیندارو والا ښکته و پورته کیږي، ته به وایې که له روسانو (پنجده) نیسي، لکه د انګریز له پاتې شونو چې ( ډیورنډ لاین) نیسي.

او...

**مړو!**

**موږ وبخښئ، موږ هم مړه یوو؛ خو هسې د ژوندیو تمثیل کوو.**

**اراوحو!**

**موږ ته دعا کوئ!**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ